






# عبدالحفيظ « مليار - ساپی »

د نشرنیټه : 7 نوامبر 2023 میلادی

# رښتيا وايم!

رښتيا وايم ،له ژوندون نه مي زړه تور شو
تش په نوم باندې پښتون نه مي زړه تور شو

چي بې ستره خويندې وينم په تورخم کې
د پنجاب له دې قانون نه مي زړه تور شو

د عدم تشدد سياست زوړ شوی
له دې درس له دې مضمون نه مي زړه تور شو

لر مي روح بر مي بدن راته ښکارېږي
له خپل تن له خپل لړمون نه مي زړه تور شو

نه يې خس نه يې خاشاک ځپو لاهو کړل
له سيحون او له جيحون نه مي زړه تور شو

***

عبدالحفيظ « مليار »

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org